هفته واره رساله

TRANSLATION DEPARTMENT (DAWAT-E-ISLAMI)

د امیرِ اهلِسُنَّت د کال 1989 (تقریباً 38 کاله مخکښینې) بیان

# د بې اَدبۍ سزا

د اولیاؤ ګستاخ لېونې شو....

د مال په وجه د مرګ په وخت دوه افتونه

د اولیاؤ او عالمانو نه د امتحان په تړګه پوښتنه کول څنګه دي؟

د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمان


شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د بے ادبۍ سزا [1]

دُعائےعطّار: یا ربِّ کریمه! څوک چې دا رساله " د بے ادبۍ سزا " ولولي یا واوري هغه او د هغۀ راتلونکي نسلونه د اولیائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د بے ادبۍ او د بے ادبو د شر نه محفوظ کړې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه بے حسابه وبخښې۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د الله پاک ډېر ذِکر کول او په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل فَقر (یعني تنګدستي) لرې

[1]... دا بیان شیخِ طریقت، امیرِ اهلِ سُنَّت، د دعوتِ اِسلامي د باني حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي ضیائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په کال 1410 هجرۍ بمطابق 16 نومبر کال 1989ء د عاشقانِ رسول د سُنَّتو نه په ډکه اِجتماع ککري ګراؤنډ کراچۍ کښې کړے وو۔ کوم له چې د المدینة العلمیه " شعبه بیانات امیر اهلِ سُنَّت " ترتیب ورکړے دے۔

کوي- (القول البديع، ص273)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بے ادبی سزا

حضرت ابو سعيد عبدُ الله محمد تميمي شافِعِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ کال 580 هجری کښې د دِمَشق پهٔ لوئے جومات کښې خپله واقعه بيان کړله چې زما يو کلاس فيلو وو د هغهٔ نوم "اِبنِ سَقا" وو، زمونږ د دواړو دوستي وه او مونږ به پهٔ شريکه سبق يادولو، مونږ پهٔ بغداد شريف کښې د يو بزرګ ډېر صفت اورېدلے وو کوم چې د هُغه وخت غوث منلے کېدو، د هغوئي مشهور کرامت دا وو چې هغوئي به کله غوښتل نو ظاهرېدلو به او ناڅاپه به پهٔ ناسته ناسته د نظر نه غائبېدلو هم- مونږ پهٔ شريکه د هغوئي سره د ملاقات اِراده اوکړه، هُغه وخت شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم زمونږ کلاس فيلو وو، هغوئي ووئيل: زهٔ هم درسره ځم- اِبنِ سقا ووئيل: زهٔ به د دې بزرګ نه د داسې مشکلې مسئلې پوښتنه کووم چې دے به يې جواب رانکړے شي- ما (يعني ابو سعيد عبدُ الله محمد) ووئيل: زهٔ به هم ګرانه پوښتنه کووم، ګورم چې هغوئي به يې څهٔ جواب راکوي خو شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږ د دواړو نه مختلفه خبره اوکړه، هغوئي وفرمائيل: زهٔ خو به هيڅ پوښتنه نهٔ کووم ولې چې د بزرګانو پهٔ مخکښې

خُله نۀ پرانستلے کيږي بلکې صرف د هغوئي زيارت به کووم، مونږ درېو واړه د خپلو خپلو نيتونو سره د هغوئي کور ته حاضر شو، هغوئي پۀ خپل مَسنَد باندې تشريف فرما وو او پۀ غضبناک نظر هغوئي اِبنِ سَقا ته وکتل او وه يې فرمائيل: تۀ زما نه د داسې مسئلې د پوښتنې د پاره راغلے يې، چې ما له به يې جواب نۀ راځي- واوره! ستا مسئله دا ده او د دې جواب دا دے- هغوئي چونکه د روښانه ضمير والا وو، د اِبنِ سَقا د پوښتنې کولو نه مخکښې هغوئي د هغۀ سوال هم ووئيلو او جواب يې هم اِرشاد کړو او وه يې فرمائيل: اے اِبنِ سَقا زۀ پۀ تا کښې دننه د کُفر بَل شوے وور وينم- بيا هغوئي ما ته هم د جلال پۀ نظر وکتل او وه يې فرمائيل: تۀ دا ليدل غواړې چې زۀ به ستا د سوال څۀ جواب درکووم نو واوره! ستا پوښتنه دا ده او د دې جواب دا دے، (خو ستا ګستاخي د ابنِ سقا پۀ شان نۀ ده ولې چې ابنِ سَقا خو بد ګماني کړې وه چې جواب هډو راکولے نۀ شي، خو بے ادبي خو تا هم کړې ده او ستا د دې بے ادبۍ پۀ وجه) زۀ ستا د غوږونو پورې د دُنيا رارسېدل وينم- مونږ دواړو ته د غضب پۀ نظر د کتلو او جوابونو راکولو نه پس هغوئي پۀ خپل مَسنَد باندې ودرېدو او شېخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه يې خپلې سينې ته راجُخت کړو او ډېر پۀ مينه او شفقت سره يې وفرمائيل: اے ځويه! زۀ وينم چې تۀ به پۀ بغدادِ مُعلّٰی کښې د اوليائے کرامو پۀ اِجتماع

کښېږي دا اِعلان کوئ: قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللّٰهِ یعنې زما دا قدم د هر ولي پۀ څټ باندې دے۔

حضرت ابو سعيد عبد الله محمد تميمي شافِعي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: هٰغه بزرګ چې څۀ هم اِرشاد کړل، بالکل هم هٰغسې وشول۔ د حضور غوثِ الصَّمَداني، قُطبِ رباني، محبوبِ حقاني، پيرِ لاثاني، قنديلِ نُوراني، شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه شان واقعي چې ډېر اوچت شو او دا وخت وليدل چې هغوئ پۀ منبر باندې فرمائيل چې زما دا قدم د اولياء الله پۀ څټونو باندې دے او ټولو وليانو خپل څټونه ښکته کړل او د هغوئ قدم يې پۀ خپل څټ باندې کېښودو۔

لکه څنګه چې مولانا حسن رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي:

سروں پر جسے لیتے ہیں تاج والے
تمہارا قدم ہے وہ یا غوثِ اعظم

(ذوقِ نعت، ص 183)

ابنِ سَقا ښه ډېر عِلمِ دِين حاصل کړو او ډېر لوئ علامه، شيخُ القُرآن والحَدِيث، مفتي او ډېر زبردست مناظرِ اِسلام جوړ شو چې يو عيسائي او يهودي به هم د هغۀ مقابله نۀ شوه کولے، هغۀ به د اِسلام پۀ باره کښې دومره دليلونه ورکول چې مخامخ کَس به بائلله او سر به يې ټيټولو، داسې به هغۀ

هر چا له ماتې ورکوله، د دې پورې چې د هغۀ چرچې پۀ نورو ملکونو کښې هم شروع شوې، هغه د وخت خليفه ته ډېر نزدې شو، بيا خليفه هغه د روم طرف ته ولېږلو، کله چې هغه روم ته ورسېدو او د هُغه ځائے د بادشاه مېلمه شو نو هغۀ هلته د عيسائي پادريانو سره هم مُناظَره اوکړه او ټولو له يــې ماتې ورکړه-

يوه ورځ د ابنِ سَقَا نظر د روم د بادشاه پۀ لور باندې پرېوتو- هغه د هغۀ زړۀ ته پرېوتله او پۀ هغې باندې عاشق شو، بيا يــې شپې او ورځې د هُغې جينۍ پۀ عشق کښې تېرولې، اخر هغۀ بادشاه ته خپله مُدعا بيان کړه او د شهزادګۍ رشته يــې وغوښتله نو بادشاه ووئيل: دا څنګه کېدے شي چې تۀ مسلمان يــې او هغه هم د مسلمانانو ډېر لوئي علامه او مونږه عيسايان يو، مونږ تا له خپله لور نۀ شو درکولے لهذا دا خيال د خپل زړۀ نه اوباسه، هغه ووئيل چې زۀ د دې جينۍ نه بغېر ژوندے نۀ شم پاتې کېدے، که دې د پاره ما له هر څنګه قُرباني ورکول ولې نۀ وي- بادشاه ووئيل: که چرې تۀ عيسائي مذهب قبلوې نو زۀ د خپلې لور سره ستا د نکاح کولو د پاره تيار يم نو هغۀ د عشق پۀ وجه مجبور شو، منقول دي چې شهوت د بادشاهانو نه غلامان جوړوي-

(مکاشفة القلوب، ص255)

ابنِ سَقا هم شهوت ته سر ټيټ کړو، د هٔغه جينۍ پهٔ عشق کښې پهٔ راګېرېدو يـې د خپل دِين او اِيمان نه لاس وينځل او عيسائي مذهب يـې قبول کړو او د هغې سره يـې نڪاح اوکړه- څهٔ موده هغهٔ د عيش او عيشرت ژوند تېر کړو، اخر د هغهٔ پهٔ وجود کښې يوه بيماري پيدا شوه، پهٔ کومې چې د هغهٔ وجود پهٔ خرابېدو شو، ډېر علاج يـې اوکړو خو ټيک نهٔ شو د دې پورې چې هغه بالکل نَروِس (Nervous) شو او پهٔ بستره پرېوتلو او د هيڅ کار نهٔ شو، نو ټول دربار د هغهٔ نه نفرت شروع کړو، د هغهٔ د زخمونو نه بدبوئي شروع شوه، اخر بادشاه هغه اوچت کړو او پهٔ شاړه کښې يـې وغورځولو- يوه ورځ يو مسلمان پهٔ هٔغه ځائے تېرېدلو کوم چې دے پېژندلو نو هغه ووئيل: اے ابنِ سَقا! وګوره دا ستا څهٔ حالت دے؟ لهٰذا اوس خو توبه وکړه او مسلمان شه! نو هغه پهٔ ژړا ژړا ووئيل: اوس زهٔ کلمه نشم وئيلے، د هٔغه غوث د بد دُعا پهٔ وجه زهٔ برباد شوم، کاش چې ما د هٔغه ولي بے ادبي او سپکاوے نهٔ وے کړے او زما اِيمان نهٔ وے ضائع شوے، هم پهٔ دې حالت کښې هغه پهٔ لړزېدو لړزېدو پهٔ خراب مرګ مړ شو-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې څوک د اللہ پاک د وليانو بے ادبي او سپکاوے کوي اخر هم تباهي د هغهٔ نصيب کيږي، پهٔ شروع يا پهٔ کلونو کښې پته نهٔ لګي نو هغه ګڼي چې زهٔ چې څهٔ کووم او پهٔ کومه نظريه باندې قائِم يم هٔغه هر څهٔ ټيک دي، حالانڪې داسې نهٔ ده- ما (يعنې امير اهلِ سُنَّت)

نور هم داسې کيسونه لېدلي دي، په دې دُنيا کښې ډېر داسې ځوانان د کومو ذِهن چې ډېر تېز وو خو اخر هغوئي (د بے ادبئ په وجه) هم په ځوانئ کښې سخت لېوني شول۔

لکه څنګه چې يو ځوان لېونے شو، د هغهٔ کشر وررور زما خوا له د تعويذ وغېره د پاره راغلو نو هغهٔ ووئيل چې زما مشر وررور زما په مخکښې د اوليائے کرامو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم څهٔ سپکاوے کړے وو، د هُغه وخت نه پته نهٔ لګي چې څهٔ وشو او دے داسې شو، د داسې ګس به ما څهٔ عِلاج کړے وے، بهر حال هُغه ځوان هم په دغه بيمارئ کښې مړ شو۔

ياد ساتئ چې د اوليائے کرامو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم د سپکاوي په وجه په دُنيا کښې هم رسوائي ده او په اخرت کښې هم ذِلت او رسوائي ده۔ اللّٰه پاک دې مونږ د وليانو په محبت ژوندي ساتي او اللّٰه پاک دې د دې نه مخکښې زمونږ په اِيمان باندې مرګ نصيب کړي چې مونږ د وليانو سپکاوے اوکړو، اللّٰه دې نهٔ کړي، اللّٰه دې نهٔ کړي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د اوليائے کرامو سره دښمني کول

حديثِ قُدسي (هُغه حديث ته وئيلے کيږي چې په ژبه د رحمت عالم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وي خو کلام د رَبُّ العالمين وي، په هغې) کښې دي: څوک چې

زما د ولي سره دښني کوي (او په يو روايت کښې دي سپکاوے کوي) زهٔ د هغه د سره د جنګ اِعلان کووم- (بخاری،4/248، حديث:6502۔ معجم اوسط،1/184، حديث:609)

معلومه شوه چې څوک د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم سپکاوے کوي نو الله پاک پخپله د هغهٔ سره د جنګ اِعلان فرمائي او يقيناً الله پاک چې کله د چا سره د جنګ اِعلان اوکړي نو د دُنيا هيڅ يو طاقت هغه په دُنيا کښې نشي بچ کولے او نهٔ په قبر او حشر کښې هغه بچ کولے شي- وګورئ چې ابنِ سَقا د الله پاک د ولي سپکاوے اوکړو نو کافِر مړ شو، د هغه عِلم، عمل، کردار، د خبرو انداز، بهترين تقرير، مفسر، زبردسته مناظر، ډير لوئي عالم او پرهيزګاره کېدلو هغه بچ نهٔ کړے شو او هغه د ذِلت په مرګ مړ شو-

(د واقعې درېم ګس) حضرت ابو سعيد عبدُ الله محمد تميمي شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما داسې پوښتنه کول نهٔ غوښتل د کومې چې هغوئي جواب رانکړے شي، بلکې صرف دا مې کتل چې څهٔ جواب را کوي؟

دا هم يو قِسم له د عالِم بے ادبي ده- ياد ساتئ که چرې يو عالِم زمونږ د مسئلې جواب رانکړے شي نو دا به هيڅکله هم نهٔ وئيلے کيږي چې مونږ د هغهٔ اِمتحان واخستو او هغه فېل شو لهذا هغه عالِم نهٔ دے لکه څنګه چې د قرآنِ پاک د يو حافظ نه په تراويح کښې درې څلور آيتونه هېر شي نو هغهٔ ته ورياد کړے شي، په دې باندې څوک دا نهٔ وائي چې دے حافظ نهٔ دے بلکې د دې دا مطلب وي چې هغهٔ ته په هغه وخت کښې ياد نهٔ وو- معلومه

شوه چې د علمائے کرامو نه د اِمتحان پهٔ طور د مسئلو پوښتنه کول نهٔ دي پکار بلکې د هغوئي ادب کول پکار دي، آؤ! که د ضرورت پهٔ طور پوښتنه اوکړے شي نو بیله خبره ده یا یو لوئي عالِم د یو بل عالِم نه اِمتحان واخلي لکه څنګه چې پرچه *(Exam)* اخستے شي، د دې نه هغه مُراد نهٔ دے، بغیر د ضرورت نه چې څوک چېک کول کوي هغه نهٔ دي کول پکار۔

بهر حال ما هم یو قِسم له اِمتحان اخستل غوښتل، هغوئي ما د پاره دا بد دُعا کړې وه چې زهٔ دُنیا ستا د غوږونو پورې وینم، نو زهٔ سلطان نُور الدِّین زَنګي شهید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مَحکمهٔ اوقافو وزیر جوړ کړم، معلومه شوه چې وزیر جوړېدل او مال او دولت راتلل څهٔ سعادت نهٔ دے بلکې ډېر لوئي مصیبت دے۔ حضرت ابو سعید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي: نتېجةً د هر طرف نه دُنیا ما ته راماته شوه، ډېر مال او دولت زما پهٔ غاړه شو او زهٔ ډېر لوئي سرمایه دار شوم، داسې د هٔغه بزرګ غوث رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خبره پوره شوه، دُنیا زما د غوږونو پورې راورسیدله ه۔ (بهجة الاسرار، ص19 ملخصاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! زهٔ چې تاسو ته څهٔ وایم نو د قرآن او د حدیث پهٔ رڼا کښې یې وایم، قرآنِ کریم بالکل پهٔ واضحه توګه مونږ پوهه کوي لکه څنګه چې پهٔ سورهٔ تکاثر کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

اَلْهٰىكُمُ التَّكَاثُرُۙ(۱) حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَؕ(۲) كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَۙ(۳) ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَؕ(۴) كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْیَقِیْنِؕ(۵)

(پ30، سورۀ تکاثر: 1 تا 5)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د زیات مال طلب تاسو غافله کړئ- د دې پورې چې تاسو د قبرونو خُلې ولیدلې- آؤ آؤ، اوس به زر پوهه شئ- بیا یقیناً تاسو به زر پوهه شئ- یقیناً که تاسو د یقیني عِلم سره پوهېدلے (نو مال سره به مو محبت نۀ ساتلے-

## د نوټ ښکلول څنګه؟

واقعي چې نن که چرې چا له نوټ ورکړے شي نو هغه یې ښکلوي او د سترګو سره یې لګوي او خوشحالېږي، زۀ هغۀ ته د حېرانتیا پۀ نظر ګورم چې پۀ نا خبرتیا کښې د شیطان پۀ طریقه باندې عمل کوي- د دولت پۀ محبت کښې مست اوسیدونکو پۀ کولاؤ غوږونو واورئ! منقول دي:چې کله درهم او دینار جوړ شو نو د ټولو نه وړومبے شیطان هغه راواخستل او پۀ خپل تندي باندې یې کېښودل بیا یې هغه ښکل کړل او وه یې وئیل: چا چې د دې سره محبت اوکړو هغه زما غُلام دے- (احیاء العلوم، 288/3)

د بده مرغه اوس پۀ دې دُنیا کښې د ابلیس د غلامانو کمے نشته، نن هر یو کَس د مال سره محبت کوي، زۀ هم پۀ خپل زړۀ کښې د مال محبت محسووم، الله دې کړي چې ووځي ترې- نن به چرته پۀ لکونو کښې یو وي پۀ غارونو

کښې به وي یا به مزارونو ته تلے وي کوم چې د مال سره محبت نۀ کوي کْنې پۀ بازارونو کښې د مال نه بے نیازه پۀ نظر نۀ راځي، آؤ! ځوک چې الله پاک بچ کړي مثلاً اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم وغیره چې الله پاک هغوئي د مال نه هم لرې ساتلي دي لکه چې

منقول دي:چې د قیامت پۀ ورځ باندې به دُنیا پۀ ذلالت سره عرض کوي چې اے الله! ما خپل د ټولو نه کم نیک ولي له پۀ اِنعام کښې ورکړه نو الله پاک به فرمائي: ذلیلې! لرې شه، چې پۀ دُنیا کښې ما هغوئي ستا نه نفرت کوونکي او لرې وساتل نو پۀ اخرت کښې څنګه تا د هغوئي غاړې ته واچووم! (قوت القلوب، 407/1)

افسوس چې نن هر چا ته دُنیا ګرانه ده او هغه د دې دُنیا د راټولو د پاره ټول عمر تېروي، د دې هنر زده کوي، د دې د موندلو د پاره امریکې، چائنه، جرمني، جاپان او د دُنیا مختلفو ملکونو ته ځي، بیا یوه ورځ پۀ اخبار کښې راشي چې د جاپان نه د فلانکي مړے راروان دے، فلانکے پۀ امریکه کښې مړ شوے دے، د هغۀ مړے راروان دے، دِین او قرآن ډېر کم خلق زده کوي- ځکه چې چا حرام وګټل، خپل اخرت یې برباد کړو، د چا نه چې الله پاک او د هغۀ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناراضه شول او د چا اِیمان چې تباه شو د هغۀ پۀ باره کښې قرآنِ کریم وائي:

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ ۟ؕ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ۟ۙ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِيْنِ ۟ۙ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: یقیناً که تاسو د یقیني عِلم سره پوهېدلے (نو د مال سره به مو محبت نهٔ ساتلے)- بے شکه تاسو به ضرور دوزخ ووِینئ- بیا به بے شکه تاسو ضرور هغه د یقین پهٔ سترګه ووِینئ-

(پ30، سورۀ تکاثر: 5 تا 7)

اے د مال سره محبت کوونکو! اے د رشوت لین دین کوونکو! د سود کاروبار کوونکو! د سود پهٔ ادارو کښې سود ګټونکو! د سود پهٔ کار باندې مرسته کوونکو! پهٔ پئیو کښې اوبهٔ اچوونکو! پهٔ دروغو وئیلو سره سودا خرخوونکو! پهٔ دې آیتونو مبارکو کښې خپل انجام ته وګورئ! او یاد ساتئ!

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ۟

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا به بے شکه ضرور پهٔ هُغه ورځ تاسو نه د نِعمتونو پهٔ حقله تپوس کیږي- (پ30، سورۀ تکاثر: 8)

لهذا که چا ته زیات مال مېلاؤ هم شي نو هغه هم راګیر دے ولې چې وروستو به د هغې حساب کتاب ورکول وي- مال او دولت خطرناک دے،

دا چې ځومره هم ډېر وي هغه همره به په دُنيا او په اخرت كښې پرېشانه كول كوي او د دې په باره كښې به پوښتنه كولے شي چې دا دې په صحيح طريقه اِستعمال ولې نۀ كړو لكه څنګه چې

د حضرت سَيِّدُنا يحيىٰ بن مُعاذ رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه قول دے: مالداره اِنسان د مرګ په وخت د دوو افتونو سره مخ كيږي كوم چې د نورو (يعني غريبانو) د پاره نۀ وي: وړومبے دا چې د هغۀ نه د هغۀ ټول مال په زوره واخستلے شي او دويم دا چې د هغۀ سره د ټول مال حساب كيږي- (مكاشفة القلوب، ص144)

ياد ساتئ چې ځوک د مال نه خلاصېدل هم ډېر لوئي افت دے، كله چې د چا نه مال په زوره واخستلے شي نو ډېره غټه صدمه ورته رسيږي لكه څنګه چې څۀ موده مخكښې په اخبار كښې راغلل چې د يو كَس لاټري راوختله نو هغه ډېر خوشحاله شو او د انعامي رقم حاصلولو د پاره لاړو، په لار كښې په هغۀ يو ګنډكپ پېښ شو او د هغۀ نه يې جيب ووهلو، كله چې هغۀ ته پته ولګېدله چې زما دولت ضائع شو نو هغه ډېر خفه شو، هغه د روان رېل ګاډي نه ودانګل او ځان يې ووژلو او په حرام مرګ مړ شو، تاسو وكتل چې د مال نه خلاصېدل لوئي غم وي-

دا هم ياد ساتئ چې د مال نه په خلاصيدو باندي خبره نۀ ختميږي بلكې په اخرت كښې به هم حساب وركول وي، تپوس به كيږي چې مال دې د كوم ځائے نه حاصل كړو؟ كه چرې مال حلال وو نو هغه دې په حلاله

طریقه ولې وه نۀ لګولو؟ یا دې د کوم کوم ځائے نه حاصل کړو؟ یا پۀ کوم کوم ځائے کښې دې ولګولو؟ د دې تپوس به کولے شي او که چرې حرام وو نو ولې دې وګټلو؟ اوس یـې سزا وخوره! لهذا مال سراسر افت دے-

یاد ساتئ چې پۀ دُنیا کښې د چا سره نِعمتونه څومره ډېر وي نو د قیامت پۀ ورځ به د هغۀ د پاره د پرېشانۍ اسباب هم ډېر پیدا کیږي -

## د خپل اولاد د پاره څۀ جمع کړئ!

حضرت محمد بن کَعب اَلقُرظِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته د چرته نه ډېر مال و دولت لاس ته راغلو نو خلقو هغوئي ته ووئیل چې تاسو یـې د خپل اولاد د پاره کېږدئ! هغوئي وفرمائیل: زۀ به دا د خپل ځان د پاره د اللّٰه پاک سره جمع کووم او خپل رَبّ به د خپل اولاد د پاره پرېږدم- (مکاشفة القلوب، ص143)

وګورئ! لکه څنګه چې نن سبا زنانه ډېر سرۀ زر جمع کوي چې د لور پۀ وادۀ کښې یا پۀ پرېشانۍ کښې یـې پۀ کار راشي بیا یې هم د ځان نه غریبه جوړه کړي وي، زکوٰة نۀ ورکوي او دا بانه جوړوي چې زمونږه ګټه لږه ده، یاد ساتئ! که چرې یوه زنانه صاحبِ نصابه شوه نو د شرطونو پوره کېدو پۀ حالت کښې به هغه زکوٰة ورکوي، پۀ دې کښې ګټه شرط نۀ دے لکه څنګه چې درله څوک پۀ تحفه کښې ډېر مال درکړي او پۀ هغې باندې د کال تېرېدو سره سره نور شرطونه هم پوره شي نو پۀ هغې باندې به هم زکوٰة

ورکول وي د دې پورې چې کوم خلق د نیاز د پیسو حصه اوباسي او بېله يـې بږدي او چا ته يـې نۀ وي سپارلې نو هغه د هغۀ پۀ ملکیت کښې ده هغه به هم پۀ زکوٰة کښې شامله وي- افسوس چې ډېر خلق زما خوا له راځي، ژاړي او وائي چې لوږه مې پېغلې شوې دي، که چرې زکوٰة اوباسو نو داسې به وشي هٰغسې به وشي-

د دې نه معلومه شوه چې دا ټول فِکرونه زمونږ د لاسو دي- يقين اوکړئ! که چرې خلق د دعوتِ اِسلامي حقیقي اِسلامي پېغام قبول کړي نو ټولې مسئلې به يـې هوارې شي، د مال او دولت سره محبت پرېږدي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت کلک اونیسي، د اِسلام ښه او قیمتي اُصول اِختیار کړي، نېک نـمونئ ګزاره جوړ شي او د اخرت فِکر شروع کړي نو ټولې مسئلې به يـې هوارې شي او زمونږه معاشره به دومره صحیح شي چې د دُنیا يو طاقت به دې ته کتلے هم نۀ شي، بیا به د اللّٰه پاک غېبي مدد هم دغه شان زمونږ سره شامل شي لکه څنګه چې د بدر پۀ مېدان کښې راغلو چې يو اړخ ته 313 وو او د هغوئي مخې ته وسله پۀ لاس د 1000 کسانو لښکر وو، د قرآنِ پاک نه ثابته ده چې هلته د فرښتو فوځونه نازل شول، پۀ کتابونو کښې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم بیانونه دي، هغوئي فرمائي چې د بدر پۀ مېدان کښې به مونږ د ګزار د پاره توره اوچتوله، د دې نه مخکښې

چې هغه د هغۀ ښتې ته ورسېږي ښتې به ټخپله کټ شو او راپرې به وتو د
کومې نه چې به معلومېدله چې د فرښتو توره ده-

(شرح الزرقانی علی المواھب، 292/2 ملخصاً)

د بده مرغه نن پۀ هر کور کښې فلمونه ډرامې کتلے کيږي، زمونږ پۀ
حقيقي اِسلام کښې پۀ قرآنِ او د حديثونو او د دِين د بزرګانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم پۀ
کتابونو کښې د فلمونو ډرامو، سندرو سازونو، عُريانۍ، عياشۍ او فحاشۍ
هيڅ ځائے نشته، حقيقي مدني اِسلام کوم چې مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
راوړے او کوم چې د فلمونو ډرامو، هر قِسمه ګناه او ګند نه پاک دے هغه
اِختيارول پکار دي، الله دې کړي چې زمونږه سوتره او پاک اِسلام
نصيب شي- پۀ خُدائے مې دې قَسَم وي! که چرې زمونږه حقيقي اِسلام
نصيب شي نو مونږ بيا هُغه د اِيمان طاقت حاصلولے شو کوم چې دښمن
له ماتې ورکولے شي، تاريخ ګواه دے چې زمونږه اَسلافو د خپل اِيمان پۀ
طاقت لوئي لوئي دښمنانو له ماتې ورکړې وه لکه څنګه چې

## د وژلو پۀ اِراده راغلے مسلمان شو

د حضرت خواجه غريب نواز مُعينُ الحق والدِّين حَسَن سنجَري اجميري
رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دربار ته يو کَس چاړه راوړه، د هغۀ دا خواهش وو چې پۀ څۀ
طريقه هغوئي ووژني، هغوئي د هغۀ د طرف ته مومِنانه نظر اوکړو (پۀ حديثِ
شريف کښې دي: د مؤمِن د فِراست نه ويرېږئ ولې چې هغه د الله پاک پۀ نُور

سره لیدل کوي- (معجم اوسط، 271/2، حدیث: 3254) ) او د هغهٔ پهٔ اِراده پوهه شو، بیا هغوئي وفرمائیل: زهٔ حاضر یم، زر کوه چاړه راواخله او خپل کار پوره کړه، پهٔ دې اوریدو هغه پهٔ رېچیدو شو چې دهٔ ته څنګه پته ولګیدله او پهٔ هغهٔ باندې دومره رُعب پریوتو چې هغه د هغوئي پهٔ ښپو کښې راپریوتو، هُغه چاړه یـې هم د هغوئي پهٔ ښپو کښې وغورځوله او وه یـې وئیل: زهٔ واقعي چې د وژلو پهٔ اِراده راغلے ووم، اوس زما سزا هم دا ده چې تاسو پهٔ دې چاړه باندې ما ذبح کړئ نو هغوئي وفرمائیل: زمونږه اِسلام مونږ له دا تعلیم راکوي چې مونږ د خپیړې جواب پهٔ سوک سره نهٔ بلکې پهٔ ګُل سره ورکوو، هغه دومره متاثره شو چې مسلمان شو او د هغوئي مُرید جوړ شو-

(مرأۃالاسرار (مترجم)، ص598 ماخوذاً)

## اوس به تا زما نه څوک بچ کوي؟

دغه شان خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ځل د ونې لاندې ارام فرمائیلو چې یو کَس پهٔ غلطه اِراده د تورې سره راغلو، د هغوئي سترګې وغړېدلې- هغهٔ ووئیل: اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اوس به تا زما نه څوک بچ کوي؟ نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: اللّٰه! هغه درې ځله پوښتنه اوکړه، هغوئي درې ځله د اللّٰه پاک نوم واخستو، څنګه چې پرې د اسمِ ذات ګزار وشو نو هُغه کافِر پهٔ لړزیدو شو او د هغهٔ د لاس نه توره پریوتله، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم توره راواخستله او وه یـې فرمائیل: اوس

به تا څوک بچ کوي؟ هغهٔ یو دم وِړېدو، بیا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه معاف کړو، د هغوئي دا اخلاق يې چې ولیدل نو هغه مسلمان شو۔

(بخاری، 3/59، حدیث: 4135 ملخصاً)

وګورئ! که چرې نن هم مونږ په صحیح معنو کښې په الله پاک او د هغهٔ پهٔ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې باور اوکړو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم جولۍ ونیسو نو نن به هم زمونږه اِیمان مکمل شي، کوم افتونه چې مو پهٔ سر ګرځي هغه ټول به ختم شي، د تیارو وریځې به د مالوچو پهٔ شان ذرې ذرې شي، د مدینے منورې انوار او جلوې به زمونږ پهٔ زړونو باندې راخورې شي او زمونږ زړونه به د دې نه فائده حاصله کړي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ټول قومونه به د دې نه رڼا حاصله کړي، ټول ډاکوان به توبه کړي، پهٔ دُنیا کښې به هر اړخ ته سکون، اطمینان او راحت راشي، د مدینے منورې سکینه به نازله شي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! تش رحمتونه به نازل شي، کم از کم دا لوظ اوکړئ چې د نن نه به چرې هم نمونځونه نهٔ قضا کیږي او بیره به هم نهٔ خریو۔

یاد ساتئ چې پهٔ ژوند هیڅ باور نشته لکه څنګه چې پهٔ یو اخبار کښې راغلل:

د جَلال پور جَټاں (پنجاب، پاکستان) سره پهٔ خوا کښې پهٔ یو کلي کښې د دوو ورونړو د یوې ورځې پهٔ فاصله ودونه وو، د مشر ورور وادهٔ يې وشو، پهٔ بله

ورځ د کشر ورور وادهٔ وو، نو پهٔ بله ورځ مشر ورور او نور خپل خپلوان د کشر ورور پهٔ جنج کښې د شرکت کولو د پاره پهٔ بس کښې روان شول، بس پهٔ خپل رفتار سره روان وو چې ناڅاپه د ګوجرانواله سره نزدې پهٔ مونکي روډ باندې پهٔ عقل کښې د نهٔ راتلونکې پېښې سره مخ شو چې د بس دروازه برسېره شوه او هغه مشر ورور د کوم چې پرون وادهٔ شوے وو، خوار د روان بس نه وخوئېدو او پهٔ سړک باندې راپرېوتو او د بس ټائر پهٔ هغهٔ باندې ور وختلو، هغه سخت زخمي شو، خلقو رامندې کړې او هغه يې پهٔ سخت زخمي حالت کښې اسپتال ته ورسولو- جنج روان شو او مونکي ته ورسېدو او د نکاح تيارياني شروع شوې، دلته هغه د اسپتال پهٔ فرش باندې پروت وو او هلته د هغهٔ د کشر ورور د نکاح تيارۍ شوې وې، پهٔ دې کښې د اسپتال نه خبر راغلو چې " د وادهٔ د ځلمي مشر ورور پهٔ اسپتال کښې ساه ورکړه-" د وادهٔ ټول محفل پهٔ ماتم کښې بدل شو او نوې ناوې چې دا خبر واورېدو نو هغه وار خطا شوه، د هغې دماغ خراب شو او لېونۍ شوه، پهٔ لږ وخت کښې د خوشحالو نه ډک ماحول پهٔ غمونو کښې ډوب شو-

غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ډېر کفنونه وينځلے شوي تيار ساتلے شوي وي خو کفنونه اغوستونکي پهٔ بازارونو کښې ګرځي، ډېر خلق داسې وي چې هغوئي له قبرونه کنستلے شوي وي خو پهٔ هغې کښې دفن کېدونکي پهٔ خوشحالو کښې مست وي- (غنية الطالبين، 348/1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! نن چې تاسو د كومې منصوبې بنيادي تيګه ږدئ او د كومې چې مو ډېر ښكلے ماډل هم جوړ كړے دے، څۀ پته لګي چې د هغې ليدل مو هم نصيب نۀ شي، د هغې نه مخكښې قبر كښتے تيار شوے وي- څومره ځلمي خواران د وادۀ پۀ ارمان كښې مړۀ شي دغه شان هره ورځ پۀ اخبار كښې راځي چې پۀ وادۀ كښې د ناكامۍ پۀ وجه څومره هلكان او جينكۍ ځانونه وژني، څكه پۀ نېكۍ كښې مۀ ناوخته كوئ، څۀ چې كوئ هم نن يــې اوكړئ، د نن كار سبا ته مۀ پرېږدئ، سبا به بَل كار وي، نو نن چې څۀ كول دي هغه اوكړئ او هم اوس يــې اوكړئ، وئيلے كيږي چې پۀ نېكۍ كښې ناوخته كول نۀ دي پكار، چې څنګه د نېكۍ نيت اوكړئ نو سمدستي يــې كوئ مثلاً د نــمونځ وخت شي نو سمدستي يــې اوكړئ چې د نــمونځ نه زيات بَل هيڅ اهم كار نشته، پۀ نــمونځ كښې هيڅكله هم بے خيالي مۀ كوئ چې دا د الله پاک حُكم دے، بس دا ذِهن جوړ كړئ چې پينځه واړه نــمونځونه كول دي او دا لوظ هم كول دي چې د اوس نه به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ناراستي نۀ كوو، د سحر د نــمونځ پۀ وخت كښې به نۀ اودۀ كيږو او يو نــمونځ به هم نۀ قضا كوو، دغه شان به مخ د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت ږيره مباركه باندې ښائسته كوو

دامنِ مصطفٰے سے جو لپٹا یگانہ ہو گیا
جس کے حُضور ہو گئے اس کا زمانہ ہو گیا

ياد ساتئ چې ږيره خرېل حرام او د يو موټي نه وړه كول هم حرام دي- (فتاویٰ رضويه، 22/571تا572 ملخصاً) لهذا چې كه هر څنګه مصيبتونه او افتونه راشي نو ږيره پرېږدئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټول غمونه به لرې شي، د كورونو پرېشانۍ به ختمې شي، كه چرې كور والا مو منع كړي نو تاسو ورسره بحث مهٔ كوئ ځكه چې كه تاسو د هغوئي سره بحث كوئ او دليلونه وركوئ نو كېدے شي چې معامله نوره هم خرابه شي ځكه خاموشه شئ، د چا سره پرې بحث مهٔ كوئ او هيڅ جنګ جګړې مهٔ كوئ بلكې زما بيان ورته ولګوئ، د دې سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټولې مسئلې هوارې شي- ډېرې داسې كورنۍ كومو چې به ږيرو او د عمامې شريفې وغيره نه ډډه كوله اوس اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هغوئي پهٔ بيانونو اورېدو صحيح شوي دي، ځكه كه چرې تاسو يــې نهٔ شئ پوهه كولے نو هيڅ خبره نهٔ ده بس پهٔ محبت سره هغوئي د بيان اورېدو د پاره راضي كړئ، بيان چې واوري نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټيک به شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راتلونکې هفتې رساله





فیضانِ مدینه، محلّه سوداګران، زړه سبزي منډي کراچي
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net